# اللهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله په لمانځه کې تکبير وواېه نو له قراءت پيلولو وړاندې به يوه لحظه چپ پاتې شو، نو ما وويل: اې د الله رسوله ! زما پلار او مور دې له تا څخه قربان شي، د تکبير او قراءت تر منځه د چوپتيا په اړه خبر راکړه، چې څه وايې؟ هغه وفرمايل: «زه وايم: اللهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ».اې الله زما او د ګناهونو تر منځه داسې لرې والی راوله لکه څرنګه دې چې ختيځ له لوېديځ څخه لرې کړی دی، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګلۍ سره ومينځه.

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه لپاره تکبير وکړ، نو د فاتحې ويلو نه مخکې به يې يو لنډ څنډ کاوه چې پدې کې به يې لمونځ په ځينو دعاګانو سره پرانيسته، او ځينې لدې دعاګانو څخه چې واردې دي د هغه دا وينا ده: «اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب، اللهم نقني من خطاياي، كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس، اللهم اغسلني من خطاياي بالماء والثلج والبرد»، اې الله زما او زما د ګناهونو تر منځه داسې لرې والی راوله لکه څرنګه دې چې ختيځ له لوېديځ څخه لرې کړی دی، اې الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له خيرو څخه پاکيږي، اې الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګلۍ سره ومينځه. له الله جل جلاله څخه غوښتنه کوي چې د هغه او ګناهونو تر منځه يې لرې والی راولي تر څو پکې واقع نه شي، داسې لرې والی چې هېڅکله يې تر منځه ملاقات ونه شي، لکه څنګه چې د ختيځ او لوېديځ تر منځ هېڅکله ملاقات نه کيږي، او که چېرته په ګناه کې واقع شو نو چې داسې يې ترې پاک کړي او ګناهونه ترې لرې کړي لکه څنګه چې له سپينې جامې څخه خيري لرې کيږي، او دا چې له ګناهونو يې پدې پاکيزه شيانو؛ اوبو، واورې او يخ سره پاک کړي، تر څو د ګناهونو لمبې او تودوخه سړه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3104

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee